GIFTINFORMATIONSCENTRALEN
en enhet inom Läkemedelsverket

Pashto

# سویډن کې د زهرو معلوماتي مرکز

کیمیایي موادو، دوایانو، بوټو، مرخیړیو، زهرجنو ځارویو څخه د زهرجن کېدنو په اړه د پوښتنو ځوابونه وړاندې کوي.

١١٢ ته زنګ ووهئ - د زهرو معلوماتو (Giftinformation) پوښتنه وکړئ، شپه وي که ورځ

په داسې حالتونو کې چې ډېر عاجل نه وي ٠١٠-٤٥٦ ٦٧٠٠ ته زنګ ووهئ


مونږ هره ورځ په ورځ کې ټول ٢٤ ساعته موجود یو

د نورو معلوماتو لپاره زمونږ ویبسایټ www.giftinformation.se ته لاړ شئ




Illustrationer: Annie Boberg. Mars 2017.

## بوټي



دا عادي خبره ده چې ماشومان بوټي خوري او په ډېرو حالتونو کې یې خطر لږ یا نه وي. دوه توتان خوړل، پروا نه کوي که د هر ډول وي، زیان نلري. د بوټو په اړه نور معلومات زمونږ په ویبسایټ کې ولولئ.

### د پېژندنې مشورې

د عامو بوټو او توتانو عکسونه زمونږ په ویبسایټ www.giftinformation.se موندل کېدلی شي.

## مرخېړي



ډېر مرخېړي زیان نلري، خو یو څو ډېر زهرجن دي. که تاسو شک لرئ چې ماشوم مو یو داسې مرخېړی خوړلی چې زهرجن به وي نو.

**د زهرو مرکز ته زنګ ووهئ**

مرخېړی ددې لپاره وساتئ چې که چیرته یې پېژندګلو ته اړتیا پیښه شي.

د زهرجنو مرخېړیو په اړه معلومات په بېلابېلو ژبو کې زمونږ د ویبسایټ څخه ډاونلوډ کېدلی شي.

## د لنډي مار چیچنې



د لنډي مار چیچل خطرناک کېدلی شي.

**تل طبي توجو وغواړئ**


کله چې ستاسو ماشوم داسې څه
تېر کړي وي
په ساه کې راشکلي وي
سترګو سره یې لګېدلي وي
پوستکي سره یې لګېدلي وي
چې ستاسو په فکر خطرناک به وي نو مونږ ته زنګ ووهئ..

GIFTINFORMATIONSCENTRALEN
en enhet inom Läkemedelsverket

# دواياني

احتياط كولو باوجود داسې پېښې رامينځته كېدلى شي چې ماشومان پكې دواپانو سره مخ شي. كله چې په فاميل كې څوک مريض وي نو داسې كېدلى شي چې د دوا بوتل كوم ښكاره ځاى كې هېر شوى وي. كېدلى شي چې تاسو په غلطۍ سره ماشوم ته بدله دوا يا د دوا بدل خوراک وركړى وي.
د ډېرو دواپانو لړ خوراكونه هم خطرناک كېدلى شي.

**که چيرې يو ماشوم په غلطۍ سره يوه دوا خوړلې وي او يا ورته د دوا ناسم خوراک ورکړل شوی وي نو تل د زهرو مرکز ته زنګ ووهئ.**



## په کور کې فعاله شوي سكاره (*aktivt kol*) وسائل

دا سكاره د ډېرو موادو سره ربط پيدا كوي او هغه په بدن كې د لا زيات خوربدو څخه منع كوي خو كه چيرې په ابتدايي مرحله كې وركړل شي.

په ځينو حالتونو كې بايد دا سكاره دوا ورنكړئ، د بېلګې په توګه كه چيرې ماشوم بې خوده وي او يا يې خورنده مواد تېر كړي وي.

فعاله شوي سكاره په دواخانو كې شته.

**ماشوم ته د فعاله شويو سكارو له وركولو مخكې تل د زهرو مركز سره تماس ونيسئ.**

# كيميايي توليدات

كيمايي توليدات په كوچنيو ماشومانو كې د زهرجنې د پېښو تر ټولو زيات عام لامل دى. ددې پېښو څخه زياتره يې كوم زيان نلري. كه ستاسو ماشوم لږ شانته شامپو يا ډيټرجنټ وڅكي، نو زياتره وخت د څښلو لپاره يو څه وركول ورته كفايت كوي. خو، په كور كې د استفادې ځينې توليدات لږ شان هم خطرناک دي
.

خطرناک توليدات او مواد

- پايپ پاكوونكي يا تنور پاكوونكي مواد
- پټرولي توليدات لكه د خاورو تېل يا رنګ نري كوونكي
- بټن بټرياني
- كنګل ضد
- سركه يي تېزاب

## ايا زه يې كانګو كولو ته اړباسم؟

تقريباً هيڅكله نه. په عموم كې ددې اړتيا نشته او ځينې وختونه كار نور هم پسې خرابولى شي، د بېلګې په توګه هغه وخت كې چې خورنده مواد يا پټرولي مواد تېر كړى شوي وي.



**د زهرو مركز سره له تماس نيولو مخكې يې هيڅكله كانګو كولو ته مه اړباسئ!**